# خلاصون

## اعمال دَ رسولانو ۴ : ۱۲

دَ بل هيچا په وسيله خلاصُون نِشته ځکه چه په ټوله دُنيا
کښے بل نُوم هيچا ته نۀ دے ورکړے شوے چه په هغے
مُونږ خلاصُون ومُومو

# ۱

خدائ آدم آؤ حوا پیدا کړل چه هغوی سره رفاقت وکړی خو هغوی دَ ابلیس په دهوکه کښی راغلل آؤ خپل پیداکونکي خدائ نافرمانی وکړله - پیدایښت ۳:۱۷

مونږ ټول دَ آدم آؤ حوا اولاد یوؤ نومونږ ټولو ګُناه کړے ده-

### رومیانو په نوم خط ۳ : ۲۳

ځکه چه ټولو ګُناه کړے ده اَؤ دَ خُدائے دَ لوئی نه محرُوم دی

### دَ یوحنا رسُول اول خط ۱:۸

که چرے مُونږ دا ووایُو چه بے ګُناه یُو نو مُونږ خپل ځان ته دوکه ورکوُو اَؤ په مُونږ کښے رښتیا نِشته

# ۲

بنی آدم دَ پاره یو ځل مړ کیدل،اَوْ پس له هغې عدالت کیدل
مُقرر دی

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۹:۲۷

اَوْ لکه چه ښنګه دَ بنی آدم دَ پاره یو ځل مړ کیدل،اَوْ پس له
هغې عدالت کیدل مُقرر دی

## دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۱۴:۱۲

ځکه چه له مُونږ نه هر یو به خُدائې ته حساب ورکوی

# ۳

## دَ بے ایمانئ او ګناه سزا تل تر تله دوزخ لمبے دي - دَ اور تالاب

### د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۸:۱

دَ هغه چا نه مه ویریږئ څوک چه وجُود وژنی خو رُوح نۀ شی وژلے، بلکه دَ هغه چا نه ویریږئ څوک چه دَ رُوح اَؤ دَ بدن دواړو په دوزخ کښے دَ بربادولو توان لری

### دَ مرقوس په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۴۸:۹

چرته چه رغړیدُونکی چینجی چرے نۀ مری اَؤ اور ئے تل تر تله لمبے وهی

## دَ یوحنا مُکاشفات ۲۰:۱۴ر۱۵

بیا مرګ اَؤ عالم ارواح دَ اور تالاب ته وغورزولې شول، دَ
اور تالاب دویم مرګ دے

۱۵ اَؤ په دے کښې هغه کسان وغورزولې شول، دَ چا
نومُونه چه دَ ژوندُون په کتاب کښې درج نۂ وُو

# ۴

دَ اور  تالاب شپه اَؤ روئح سوځول کوي

## دَ یوحنا مُکاشفات ۲۰:۱۰

اَؤ هغوئ له دوکه ورکوُونکے اِبلیس دَ اور اَؤ ګُوګړو تالاب ته وغورزولے شو چرته چه ځنګلی ځناور اَؤ دروغژن نبی هم ورغورزولے شوے دے اَؤ هلته به په شپه اَؤ ورځ تل تر تله عذابولے شی

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۵:۴۱

بیا به هغه هغو ته ووائی، خوک چه به دَ هغهٔ ګس لاس ته وی، اَئے لعنتیانو! زما دَ سترګو نه پنا شئ اَؤ هغه تل عُمری اور ته لاړ شئ چه دَ شیطان اَؤ دَ هغهٔ دَ فرښتو دَ پاره تیار شوے دے

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۳:۲

نو بیا دَ دومره لوئې خلاصُون نه په غافل پاتې کیدو مُونږ څنګه بچ کیدے شُو؟ کُوم خلاصُون چه وړُومبے دَ مالِک په وینا وشو اَؤ آؤریدُونکو مُونږ ته ثابت کړو

# ۵

خُدائے مینه دے- هغۀ  خپل یکی یو زوئے ئے هم ورکړو آؤ
هغه مړ شو آؤ بیا ژوندے شو چه دَ هغۀ په وسیله مونږ.
خلاصُون بیا مُوو

## دَ یوحنا رسُول اول خط ۸:۴

ځکه چه خُدائے مینه دے،

## دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۹:۱۴

ځکه چه مسیح دَ هم دے دَ پاره مړ شو اَؤ بیا ژوندے شو،
چه هغه دِ دَ مړو اَؤ ژوندو دواړو مالِک وی

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۱۷,۱۶:۳

۱۶ خُدائے دَ دے دُنیا سره داسے مینه وکړله چه خپل یکی
یو زوئے ئے هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوی ئے

ایمان راوړی هغه هلاک نۀ شی خو دَ تل عُمری ژوندُون بیا مُومی. ۱۷ خُدائے خپل زوئے دُنیا ته دَ دُنیا دَ مُجرم کولو دَ پاره نۀ دے رالیږلے بلکه دَ دے دَ پاره چه دَ هغۀ په وسیله دُنیا خلاصُون بیا مُومی

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۱۲:۱

خو کومو خلقو چه قبُول کړو هغوئ ته ئے دا حق ورکړو چه دَ خُدائے اَوْلاد شی یعنی  هغوئ چه دَ هغۀ په نامه ایمان راوړ

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۶:۱۴

عیسیٰ جواب ورکړو، زَۀ لار یم، زَۀ حق یم اَؤ زَۀ ژوندُون یم. هیڅوک هم زما دَ وسیلے نه بغیر پلار ته نۀ شی راتلے

## دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۸:۵

خو خُدائے خپله مینه مُونږ ته داسے ښکاره کړه، کله چه مُونږ لا گُناه گار وُو نو مسیح زمُونږ دَ پاره مړ شو

## دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۱۰,۹:۱۰

ځکه که ستا په خُلهٔ دا اِقرار وی چه عیسیٰ مالِک دے اَؤ په زړهٔ کښے دِ دا ایمان وی. ولے چه مُونږ په زړهٔ سره ایمان راؤړو اَؤ خُدائے مُونږ صادِقوی،اَؤ په خُلهٔ دا اِقرار کوُو نو خلاصُون به بیا مُومُو. چه خُدائے هغه دَ مړو نه راپاڅولو نو تهٔ به خلاصُون بیا مُومو

# ۶

مونږ تاسو له داه دعوت راکوؤ چه تاسيِ دَ خدائ مینه
ویپژنئ آؤ مالک عیٖسی مسیح باندي خپل مالک آؤ
خلاصوونکيِ په طور ایمان راوړئ آؤ داه دعا ووکړئ

آسمانی پلاره زه خپل ګناهونو اقرار کاوم آؤ زما ایمان دي چه
مسیح زما ګناهونو لپاره مړ شو آؤ له مړو نه بیا ژوندي شو چه
ما له خلاصون آؤ ابدی ژوند راکړي

تو زما کومک وکړيِ آؤ مسیح په مینه آؤ فرمانبرداری کښيِ
آؤ هغهٔ په کلام آؤ احکاماتو په مطابق ژوند تیرولو توفیق
راکړيِ – زهٔ ستا ابدی مینيِ آؤ حلاصون لپاره ستا شکر
کاوم - دَ مسیح پاک آؤ جلالی نوم به وسیلے سره دا دعا
قبول کړه - آمین

# ۷

اوس تهٔ دَ خدائ فرزند یئ هر وخت خپل په زړهٔ کښېِ دَ
خپل مالک رضا غواړه مالک مسیح تل تر تله خپل پاک روح
سره لارښوونکيِ دي- په هغهٔ باندي عقیده لره

## دَ کورنتیانو په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط ۱۷:۵

دَ دے دَ پاره که څوک په مسیح کښے وی نو هغه نوے
مخلُوق دے، زاړهٔ څیزُونه تیر شول،وګورئ هغه اوس نوی
شول

## اِ ستثنا ۲۹:۴

که تاسی  خپل خدائ لټون کوي نو وبه ئے مُومئ که تا سی
پورا زړه آؤ روح دَ احلاصه هغهٔ لټون وکړئ

## امثال ۳:۵،۶

خپل پورا زړه دَ حلاصه په خدائ باور سا تئ آؤ په خپل انسانی ادراک مه تکیه کوئ په هر حال کښې هغۀ باندې پوخ ایمان لرئ ، هغه لارښوونکې دې

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۶:۳۳

تاسو دَ هر څۀ نه اول دَ خدائے بادشاهئ اَؤ دَ هغۀ دَ ریښتینوالئ لټُون کوئ، نو نور هر څۀ به تاسو ته په خپله حاصل شی

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۶:۱۹،۲۰،۲۱

په مزکه ځان ته خزانے مه جمع کوئ چرته چه هغه بزے وهی اَؤ زنګ کیږي اَؤ غلۀ ورپسے کنډر کوی اَؤ پټوی ئے. ۲۰ خپل ځان ته خزانے په آسمان کښے جمع کوئ چرته چه نۀ بزے شته اَؤ نۀ زنګ چه دا خرابے کړی، اَؤ نۀ غلۀ ورپسے کنډر وکړی اَؤ په غلا ئے یوسی. ۲۱ ځکه چه چرته

ستا خزانه وی هلته به دِ زړۀ وی

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۱۴:۲۶

خو مددګار یعنے رُوحُ القُدس چه به پلار زما په نُوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څۀ ښائی اَؤ بیا به درته هغه څۀ رایادوی، کُوم چه ما تاسو ته وئیلی دی

# ۸

## خُدائے خپل فرزندانو له ځائے تیار کړے دے

### دَ یوحنا مُکاشفات ۲۱:۱،۲

۱ بیا ما یو نوے آسمان اَؤ یوه نوے مزکه ولیده ځکه چه
وړُومبنے آسمان اَؤ وړُومبنۍ مزکه غائب شوی وُو اَؤ سمندر
هم نۀ وُو. ۲ اَؤ ما پاک ښار،یعنے نوے بیتُ المُقدس ولیدلو
چه دَ خُدائے له طرفه له آسمان نه راکُوزیدو،اَؤ دا داسے تیار
کړے شوے وُو لکه چه ناوے دَ خپل خاوند دَ پاره ښکلے
تیاره کړے شوے وی

# ۹

مالک مسیح ته سوال وکړه چه هغهٔ ستا هره یوه ناجوړتیا آؤ
دړدونه لرے کړي آؤ ایمان لره چه هغهٔ ته روغ جوړ کړئ یئ

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۷:۱۱

۲۸ اَئِے تاسو چه ټول خوارې کوئ اَؤ پنډ مُونږ درُوند دے،
ما له راشئ اَؤ زَهٔ به آرام درکړم...۳۰ ولے چه زما جغ په وړلو
کښِے پوست دے اَؤ زما پنډ سپک دے.

## دَ مرقوس په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۳۴:۱

عیسیٰ ډیر رنځوران جوړ کړل چه په قِسم قِسم رنځُونو آخته
وُو اَؤ ډیر پیریان ئے وشړل. هغهٔ پیریان خبرو ته پرے نهٔ ښول
ځکه چه هغوئ پیژندو چه دا څوک دے

**يسعياه ۵۳:۵**

خو هغه زومونږګناهونو په وجه زخمی شو آؤ زمونږ بدکردارۍ
په سبب وهلې تکلې شو- زمونږ سلامتې دپاره په هغهٔ
سیاست وشول چه مونږ ئے شفا وموموُ

**دَ متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے**
**۱۹:۲۶**

عیسیٰ هغوئ ته وکتل اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”دَ بنی آدم دَ
پاره خو دا نامُمکنه ده ولے خُدائے هر څهٔ کولے شی

# ۱۰

با ئبل دَ خدائ مقدس کلام دے، هره وروځ دَ ځدائ کلام تلاوت کوئ چه وده ومومئ - دَانجيل شريف نه شروع کړئ

## دَ تيموتيوس په نُوم دَ پولوس رسُول دويم خط ۳:۱۶

هره صحيفه دَ خُدائے دَ رُوح دَ اِلهام په وسيله ده اَؤ دَ تعليم، اِلزام، اِصلاح اَؤ صداقت دَ تربيت دَ پاره فائده مند هم

## دَ تيموتيوس په نُوم دَ پولوس رسُول دويم خط ۲:۱۵

خپل ځا ن دَ خُدائے په وړاندے مقبُول اَؤ دَ يو داسے کار کُن په شان دَ پيش کولو کوشِش وکړه چه دَ خپل کار نه نۀ شرميږی،اَؤ خوک چه دَ حق کلام تعليم په صحيح طور ورکوی

## دَ یوحنا مُکاشفات ۱:۳

بختور دے هغه څوک چه دا لولی اَؤ بختور دی هغه خلق چه دَ پیشن ګوئی دا کلام

آؤری اَؤ څۀ چه په کښے لیک دی په هغه عمل کوی،ځکه چه وخت نزدے دے

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۱۷:۱۷

دوئ دَ حقیقت په وسیله مُقدس کړه، ستا کلام حقیقت دے

# ۱۱

دعا دَ خدائ سره مخابره کول دي- مسيح نه دَ کومک دعا
وغواړئ هره ورونح دَ  خدائ مرضئ وغواړئ، هغه ستاسو لاَر
ښوونکي دي

## دَ تِسالونيکانو په نُوم دَ پولوس رسُول اول خط ۵:۱۷

په دعا کښې ناغه مه کوئ

## دَ عبرانيانو په نُوم خط ۴:۱۶

نو راځئ چه مُونږ د خدائے دَ فضل دَ تخت په وړاندے په
زړۀ ورتيا يُون کوو چه په مُونږ رحم وشی اَؤ هغه فضل
حاصل کړُو کُوم چه حاجت په وخت زمُونږ مدد وکړی

## دَ فيليپيانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط ۴:۶

٦ دَ هيڅ خبرے فکر مۀ کوئ بلکه په هره خبره کښے تاسو

درخواستُونه دَ دُعا اَؤ زارئ په وسیلے دَ شُکر گزارئ سره دَ خُدائے په حضُور کښے پیش کړئ

## دَ فیلیپیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط ۶:۴

دَ هیڅ خبرے فکر مۀ کوئ بلکه په هره خبره کښے تاسو درخواستُونه دَ دُعا اَؤ زارئ په وسیلے دَ شُکر گزارئ سره دَ خُدائے په حضُور کښے پیش کړئ

## دَ متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۴۱:۲۶

بیدار شئ! اَؤ دُعا وکړئ چه تاسو په لمسُون کښے پرے نۀ وزئ. رُوح خو تیار دے خو وجُود کمزورے دے

## دَ متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۲:۲۱

کُومه دُعا چه تاسو په ایمان وغواړئ نو هغه به واړه قبُوله شی

# دَ یوحنا رسُول اول خط ۵:۱۴

مُونږ په دے زړۀ ورتیا سره خُدائے ته ودریدے شُو چه که مُونږ دَ هغۀ دَ مرضئ په مُطابق سوال ترے نه کوُو نو هغه زمُونږ آؤری

# ۱۲

پہ مقامی کلیسیا کښي دَ عبادت آؤ دَ مسیح تعلیماتو دَ پاره جمع کیږئ چه رُوخانی وده وموم‍ئ

## دَ متی پہ مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۰:۱۸

ځکه چه دوه یا درے تنه چه چرته هم زما په نوُم یو ځائے شی نو زَهٔ به دَ دوئ په مینځ کښے یم

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۲۵:۱۰

اَؤ دَ یو بل سره دَ عبادت دَ پاره جمع کیدو نه منع نه شُو لکه .....

## اَعمال د رسُولانو ۴۲:۲

هغوئ به دَ رسُولانو تعلیم آؤریدلو ته،دَ شریک ژوندُون،په یو ځائے دَ ډوډئ ماتولو اَؤ دَ دُعا دَ پاره راغونډیدل

# ۱۳

## دَ خدائ باندے ایمان راوړئ  آؤ هغۀ کلام باندے عقیده لرئ

### دَ مرقوس په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۱۱:۲۲

عیسیٰ ورته جواب ورکړو چه"په خُدائے ایمان لرئ

### دَ ګلتیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط ۳:۱۱

اَؤ دا خبره ښکاره ده چه دَ شریعت په وسیله هیڅوک دَ خُدائے په نِزد صادِق کیږی نه، لکه چه لیکلی دی چه: صادق به په ایمان پائ

### دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۱۰:۱۷

اَؤ ایمان دَ زیری په آؤریدو پیدا کیږی اَؤ آؤریدل دَ مسیح په باب کښے دَ زیری ورکولو نه

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۱۱:۱،۶

پس ایمان دا دے چه په هغه څیزُونو باور وکړو چه پرے اُمید لرُو،اَؤ دَ نالیدلو څیزُونو ثبوت دے. ۶ اَؤ بغیر دَ ایمان نه دَ خُدائے خوشحالول نامُمکن دی،ځکه چه خُدائے ته راتلُونکی ته په دے ایمان راوړل په کار دی چه هغه موجُود دے اَؤ څوک ئے چه لټوی،هغوئ ته اَجر ورکوی.

## دَ اِفِسیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط ۲:۸

ځکه چه تاسو دَ ایمان په وسیله په فضل خلاصُون مُوندلے دے،دا ستاسو له طرفه نه نهٔ، بلکه دَ خُدائے بخښنه ده

## دَ کورنتیانو په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط ۷: ۵

ځکه چه مُونږ په ایمان ژوندُون تیرَ وُو، نهٔ چه دَ سترګو په لیدلو

## دَ یعقُوب عام خط ۲:۲۶

غرض دا چه څنګه چه بدن بغیر دَ رُوح نه مړ دے هم هغه

شان ایمان هم بغیر دَ عمل نه مړ دے

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۲:۱۲

اَؤ دَ ایمان بانی اَؤ کاملوُونکی عیسیٰ ته وګُورو چه دَ هغۀ
خوشحالئ په ځائے چه دَ هغۀ دَ نظر دَ وړاندے وه،دَ
شرمندګئ پرواه ئے ونۀ کړه خو دَ سولئ تکلیف ئے وزغملو
اَؤ دَ خُدائے دَ تخت په ښی لاس کښیناستو

# ۱۴

دَ ټولو نه لوئے اَؤ وړومبے حُکم کوم دي ؟

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۲:۳۷ ۴۰

۳۷ هغهٔ ورته جواب ورکړو چه،((دَ مالک خُدائے سره دَ زړهٔ
په راستئ،په پُوره رُوح اَؤ په پُوره عقل سره مینه لرئ.)) ۳۸
دا ټولو نه لوئے اَؤ وړومبے حُکم دے. ۳۹ اَؤ دویم حکم هم
په دے شان دے چه،((دَ خپل ګاونډی سره دَ خپل ځان په
شان مینه کوئ.)) ۴۰ دَ شریعت اَؤ دَ نبیانو دَ تعلیم ټول بُنیاد
په دے دواړو حُکمُونو دے

# ۱۵

مونږ په عملی طور مسیح سره دَ خپلې مینې اظهار څه شان کولائ شو؟

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۳۴:۱۳

زَۀ تاسو ته نوے حُکم درکوم. دَ یو بل سره مینه کوئ،لکه چه ما تاسو سره مینه کړې ده دغه شان تاسو هم دَ یو بل سره مینه کوئ

## دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے ۱۵:۱۴

که تاسو زما سره مینه کوئ نو زما په حُکمُونو عمل کوئ

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے

## ۱۲:۷

ځکه دَ نورو سره تل داسې سلُوک کوئ لکه څنګه سلُوک
چه تاسو دَ ځان دَ پاره غواړئ، دَ شریعت اَؤ دَ نبیانو تعلیم دا
دے

## دَ لُوقا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے

## ۶:۴۶

٤٦ ”تاسو ما ته ولے مالِک مالِک وایئ اَؤ هغه کار کله هم
نۀ کوئ چه زۀ ئے درته وایم؟ ٤٧ هر هغه څوک چه ماله
راځی اَؤ زما خبرے آؤری اَؤ عمل پرے کوی نو زۀ به تاسو
ته وښیم چه هغه دَ چا په شان دے. ٤٨ هغه دَ یو داسے
سړی په شان دے چا چه دَ کور جوړولو دَ پاره ښۀ ژور
بُنیادُونه وکنستل اَؤ بُنیاد ئے په پوخ ګټ کیښودلو. اَؤ هر
کله چه سیلاب راغے نو سیند په کور وروختو خو هغه ئے
ونۀ خوزولے شو ځکه چه هغه پوخ ودان کړے شوے وُو

## دَ یعقُوب عام خط ۱:۲۲

خو په کلام عمل کوُونکی جوړ شئ، نهٔ چه تش آؤریدُونکی چه ځان په دوکه ساتئ

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۱:۷

هر هغه څوک چه ماته مالک مالک وائی هغه به دَ آسمان په بادشاهئ کښې داخل نهٔ شی، خو صرف هغه څوک چه زما دَ آسمانی پلار په رضا کار کوی

## د متی په مطابق د مالک عیسیٰ مسیح زیرے ۲۴:۴۵،۴۶

٤٥ نو بیا اِعتباری اَؤ هوښیار نوکر څوک دے؟ هغه سړے
چه مالک دَ کور مُختار کړے وی چه دَ کور دَ نوکرانو خیال
ساتی اَؤ هغوئ له په وخت خوراک ورکوی. ٤٦ هغه نوکر
بختور دے چه هر کله ئے مالک راشی اَؤ هغه په کار کښې
بوخت ووینی

# ۱۶

## همیش نیکئ آؤ دَ یؤ بل امداد کوئ

### دَ فیلیپیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط ۱۳:۲

ځکه چه خُدائے په تاسو کښے نیت اَؤ عمل دواړه دَ خپلے نیکے اِرادے پُوره کولو دَ

پاره پیدا کوی

### دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۲۱:۱۲

دَ بدئ نه معلُوب کیږه مه بلکه دَ نیکئ په وسیله په بدئ غالب شه

### دَ یوحنا رسُول اول خط ۱۶:۳

په دے وجه مُونږ پوهیږو چه مینه څۀ ده،ځکه چه مسیح زمُونږ دَ پاره خپل ځان ورکړو اَؤ مُونږ له هم په کار دی چه خپل ځانُونه دَ خپلو ورُونړو دَ پاره ورکړُو

## دَ ګلتيانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط ۶:۲،۹

تاسو دَ يو بل خيا ل ساتئ اَوُ دغه شان دَ مسيح شريعت پُوره
کوئ ۹ نو بيا دِ مُونږ په ښۀ کار کولو کښې کله هم
حوصله ونه بائيلو،ځکه چه که بے زړۀ نۀ شُو نو په عين
وخت به ئے وريبُو

## دَ لُوقا په مُطابق دَ مالِک عيسیٰ مسيح زيرے ۶:۲۸،۲۷

۲۷ ”خو تاسو چه آؤرئ،زۀ تاسو ته دا وايم چه دَ خپل
دُښمن سره مينه کوئ اَوُ هغه خوک چه تاسو سره کينه لری
دَ هغوئ سره ښۀ کوئ. ۲۸ دَ هغوئ دَ پاره برکت غواړئ
خوک چه په تاسو لعنت کوی اَوُ دَ هغوئ دَ پاره دُعا کوئ
خوک چه په تاسو تُهمتُونه لګوی

## دَ متی په مطابق د مالک عيسیٰ مسيح زيرے ۹:۱۲-۱۵

۱۲ زمونږ قُصُورونه معاف کړه

لکه ښنګه چه مُونږ خپل قصُوروار معاف کړی دی.
١٣ اَؤ مُونږ په آزميښت کښې مه اچوه
خو مُونږ له دَ بدئ نه امان راکړه.
ولې چه بادشاهئ اَؤ قدرت
اَؤ لوئی تر همیشه پورې ستا دی. آمین.
١٤ ځکه چه که تاسو دَ هغه چا قصُور معاف کړئ چا چه
درسره بد کړی وی،نو ستاسو آسمانی پلار به هم تاسو معاف
کړی. ١٥ خو که چرې تاسو نور نهٔ معاف کوئ نو ستاسو
قصُورُونه به هم ستاسو آسمانی پلار معاف نهٔ کړی

## اَعمال د رسُولانو ۴:۳۲

دَ عیسیٰ دَ منُونکو ډلې پُوره په اِخلاص سره یووالې لرلو اَؤ په
هغوئ کښې یو کس هم دَ یو څیز دَ پاره دا دعویٰ نهٔ کوله
چه ګنی دا دَ هغهٔ دے بلکه په هر یو شی کښې شریک وُو

# ۱۷

تولے خبرے دَ خدائ کلام سره ښۀ آزميئ

## دَ يوحنا رسُول اول خط ۱:۴

اَئے عزيزانو! په هر يو رُوح يقين مه کوئ بلکه هر يو ښۀ آزميئ چه آيا هغه سړے دَ خُدائے په رُوحُ القُدس خبرے کوی که نه؟ ځکه چه په دُنيا کښې ډير دَ دروغو نبيان راپورته شوی دی

## دَ تِسالونيکانو په نُوم دَ پولوس رسُول اول خط ۵:۲۱

تولے خبرے آزميئ اَؤ چه کُومے خبرے ښې وی هغه راټينګوئ

## اَعمال دَ رسُولانو ۱۷:۱۱

دَ دے ځائے يهُوديان دَ تِسالُونيکيه دَ يهُوديانو نه اشراف وُو،

ولړے چه هغوئ کلام ډیر په اِخلاص قبُول کړو اَؤ هره ورځ به ئے صحیفړے لوستلے چه وګوری چه دا هم دغسے دی لکه چه دوئ وائی

# ۱۸

که تاسو نه څۀ ګناه وشي نو خُدائ ته دَ خپلو ګُناهُونو اِقرار
وکړئ آؤ معافئ وغواړئ- مالک مسیح نه کومک سوال
وکړئ

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۲:۱۸

ځکه چه هغه په خپله وآزمائیلے شو نو هغه دَ هغوئ مدد
کولے شی څوک چه آزمائیلے کیږی

## دَ یوحنا رسُول اول خط ۱:۹

که مُونږ دَ خپلو ګُناهُونو اِقرار کوُو نو هغه وفادار اَؤ صادِق
دے،اَؤ هغه به زمُونږ ګُناهُونه مُعاف کړی اَؤ دَ هر قِسم بدو
نه به مو پاک کړی

## امثال ۲۸:۱۳

څوک چې خپل ګناهونه اقار نه کوي هغه هیڅ کله هم

نيکمرغه نه شي کيد لي :آؤخوک   دَ خپلو ګُناهُونو اِقرار کوي هغه بهٔ رحم بياومي

## دَ يوحنا رسُول اول خط ۱:۷

خو که مُونږ په نُور کښې ګرزُو لکه څنګه چه هغه په خپله په نُور کښې دے نو بيا مُونږ په خپلو کښې شراکت لرُو،اَؤ دَ هغهٔ دَ زوی عيسیٰ وينه مُونږ دَ هر يو ګُناه نه پاکوی

# ۱۹

تاسو دَ خدائ ریښني کلام  په وجه آزمیښت کښي اچولئ
کیږئ خو تکلیفُونه  زغملو سره فرمانبرداری زده کیږي آؤ
ایمان نور مضبوطیږي-  خُدائے په آزمیښت کښے زومونږ
اصلاح کوی

## دَ یعقُوب عام خط ۱:۳

ځکه چه تاسو ته معلُومه ده چه دا ستاسو دَ ایمان په
آزمیښت کښے صبر پیدا کوی

## دَ عبرانیانو په نُوم خط ۸:۵

اَؤ سره دَ زوئے والی هغهٔ تکلیفُونه دَ زغملو سره فرمانبرداری
زده کړل

## دَ تیموتیوس په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط ۳:۱۲

بلکه هر څوک چه دَ مسیح عیسیٰ په یووالی کښې په دینداریٔ ژوند تیرول غواړی،هغویٔ ټول به وربړولے شی

## دَ یعقُوب عام خط ۱:۱۲

بختور دے هغه سړے چه آزمیښت زغمی،هر کله چه هغه وآزمائیلے شو نو دَ ژوندُون هغه تاج به حاصلوی چه مالِک دَ خپلو مئینو سره وعده کړے و

## دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۸:۲۸

اَؤ لکه چه مُونږ ته معلُومه ده چه خُدائے په هر څیز کښے دَ هغویٔ دَ پاره ښهٔ پیدا کوی څوک چه دَ خُدائے سره مینه لری اَؤ دَ هغهٔ دَ مرضئ په مُطابق رابللے شوی دی

# ۲۰

په مالک عیٖسی مسیح عقیده لرئ هغه به تاسو له غورځیدلو نه بچ کړئ آؤ مصیبتونو نه خلاص کړي

## دَ پطروس رسُول اول خط ۷:۵

اَؤ خپل ټول فکر په هغهٔ واچوئ ځکه چه هغه ستاسو خیال لری

## دَ تِسالونیکیانو په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط ۳:۳

خو مالِک رښتُونے دے،هغه به تاسو مضبُوط کړی اَؤ له هغه شریر نه به مو په امان کړی

## دَ یهوداه خط ۲۴:۱

اوس هغه چه تاسو دَ غورزیدو نه بچ کولے شی اَؤ په خپل جلال کښے مو بغیر دَ ملامتیا نه په خوشحالئ راوستے شی

## استثنا ۳۱:۶

بيدار اوسئ، ايمان قائم لرئ،زړۀ ور شئ،مضبوط اوسئ ويره مه کوي هغوي نه مه ويريږئ ، خداوند خدائ ستاسی مل دي،ځکه چه خُدائے په خپله فرمائيلی دی چه زَۀ به هيڅ کله هم ستاسو نه بے پرواه کيږم نه اَؤ تاسو به هيڅ کله پرے نۀ ږدم

## دَ رُوميانو په نُوم دَ پولوس رسُول خَط ۲:۱۲

خپل ځان دَ دے موجُوده دُنيا په شان مه جوړوئ، بلکه بويه چه ستاسو پوهه بيا نوے کړے شی اَؤ دَ دے په وسيله ستاسو فطرت بلکل بدل شی. بيا به هله تاسو دَ دے قابل شئ اَؤ په دے به پوهه شئ چه دَ خُدائے رضا څۀ ده اَؤ دا به وپيژنئ چه هغه ښه څۀ دے چه قبليدُونکے اَؤ کامل دے

## دَ يوحنا مُکاشفات ۲۲:۱۲،۱۳

هو! ګورئ! زَۀ عيسیٰ زر درځم اَؤ خپل اَجر دَ ځان سره راوړم چه هر يو له دَ هغۀ دَ عمل په مُطابق اَجر ورکړم. ۱۳
الفه اوميګه زَۀ يم،الاول اَؤ الاخر،ازل اَؤ خاتمه

## دَ یوحنا رسُول اول خط ۲:۱۵

دَ دُنیا اَؤ دَ هغې دَ څیزُونو سره مینه مه لرئ،ځکه چه څوک
چه دَ دُنیا سره مینه لری،په هغۀ کښې دَ خُدائې پلار مینه
نِشته